# A Research and Critical Analysis of the Poetry of some Persian poets as Presented In ‘‘Tarikh -e -Murasa’’

# ”تاريخ مرصع“کښې د ځينې فارسي شاعرانومذکور اشعار او د هغې تحقيقي او تنقيدي جائزه

Abdul Hakim Shah Khatak*

**Abstract:**

Afzal khan belongs to the family that has contributed to Pashto literature in multifaceted ways. He belongs to the famous Khushal Khan Khattak family, which is known as the father of Pashto literature. Afzal khan was tutored by his grandfather, Khushal Khan Khattak in the art and aesthetic of literature. Afzal khan has also composed and written books that has become an essential part of Pashto literary tradition. In addition, a lot of literary books have been translated to Pashto from other languages upon his decree. Since Arabic was our language of religion, and Persian was the official language, therefore, Arabic and Persian manuscript were translated into Pashto language for the understanding of the common people by the academicians and learned of the time. Afzal khan wrote extensively in Pashto language, and his books constitute an integral part of Pashto literature.

Afzal Khan has also penned a book named "**Tarikh e Murasa**". As the name suggests, the book is a historical survey. In this book, the author has consulted renowned Persian poets and writers. These famous authors include Abu Saeed Abul khair, Hakeem Nizami Ganjavi,Shaikh Saadi Shirazi, Hafiz Sherazi, Amir Khusro, Helali Chughtai, SaibTabrezi and some other literary figure.

This paper critically analyze Abu Saeed Abul khair, Hafiz Sherazi, Amir Khusro, Abdur Rahman Jami and Helali Chughtai poetry that included in Afzal Khan Khattak’s “ **Tarikh e Murassa** ’’.

**Key words**: Tarikh e Murassa,Abu Saeed Abul khair, Rubayat Abu Saeed Abul khair, Hafiz Sherazi, Deewan e hafiz, Amir Khusro, Qeran us Saadain, Abdur Rahman Jami, Haft Pekar and Helali Chughtai, Deewan e Helali **Chughtai**.

* Lecturer GDCBDS, Karak

افضل خان خټک د هغه کورنۍ غړے دے کومې چې په شعوري طور د پښتو ادب د پرمختګ زيار ګاللے دے . د پښتو ادب پلار نابغه خوشحال د دې کورنۍ سرخېل، استاد او لاربنود دے. افضل خان خټک د خپل نيکۀ خوشحال خان خټک نه نېغ په نېغه د ادب ابجدو او رموزو زدکړه کړې ده . افضل خان په خپله هم پښتو ادب ته کتابونه وربخښلي دي، د دۀ په وېنا او فرمائش ډېر کتابونه د نورو ژبو نه پښتو ته ترجمه شوي هم دي. عربي زمونږ مذهبي ژبه ده او فارسي د هغه وخت سرکاري او دفتري ژبه وه . د وخت شاعرانو ، اديبانو او پوهانو د اولس د پوهې دپاره د عربي او فارسي کتابونه په پښتو ترجمه کړي وو . د ترجمو نه علاوه ئې پښتو کښې تصنيفات هم کړي.

افضل خان خټک د تاريخ مرصع په نوم يو کتاب تاليف او تصنيف کړے . لکه څنګه ئې د نوم نه څرګنده ده چې د دغه کتاب موضوع تاريخ دے . موصوف په مذکوره تاليف او تصنيف کښې د فارسي ژبې مختلفو سخنورانو شعرونو نه استفاده کړې ده . په دې سخنورانو او شاعرانو کښې ابوسعيد ابوالخير، حکيم نظامي ګنجوي، شېخ سعدي شيرازي، حافظ شيرازي، امير خسرو، هلالي چغتائي ، شېخ جمالي کمبو او ځينې نور شامل دي.

په دې تحقيقي ليک کښې د ابوسعيد ابوالخير، امير خسرو، جلال الدين رومي، حافظ شيرازي،عبدالرحمان جامي او د هلالي چغتائي د هغه شعرونو جائزه اخستے شي کوم چې افضل خان خټک په تاريخ مرصع ذکر کړي.

ياده دې وي چې په دې ليک کښې د " تاريخ مرصع " د هغه نسخې نه استفاده شوې ده کومه چې دوست محمدخان کامل مومند مرتب کړې ده . مقابله ، تصحيح او نوټونه ئې پرې ليکلي دي. دا نسخه د يونيورسټي بک ايجنسي پېښور نه مئ ۲۰۰۲ء کښې د جدون پريس پېښور نه چاپ ده.

اوس د مذکوره شاعرانو د مختصر تعارف سره د شعرونو تحقيقي او تنقيدي جاج ته پام راګرځوو :

ابوسعيد ابوالخير :

ابوسعيد فضل الله بن ابوالخيرمحمد بن احمد ميهني د ايران نوموړے صوفي وۀ . د يکشنبې په ورځ، محرم ۳۵۷ هجري مطابق د ۷ دسمبر ۹۲۷عيسوي کښې ئې په ميهنه

نومې کلي کښې سترګې وغړولې(1) ـ پلار ئې محمد نومېدو ـ محمد ډېر باورع، دیانتدار سړے وو ـ د صوفیانو او د ارباب طریقت سره ئې ناسته پاسته وه ـ په خپل کلي میهنه کښې د ابوالخیر په نوم مشهور وو(2) ـ د پلار پېشه ئې عطاري وه(3) ـ د سیر او سلوک ابتدا ئې پیر صحبت ابوالفضل محمد بن حسن سرخسي او د پیر خرقه ابو عبدالرحمان سلمي نه وکړه ـ د شیخ ابوالفضل د وفات نه پس د شیخ ابوالعباس قصاب آملي په خدمت کښې حاضر شو(4) ـ د تصوف په دنیا کښې د "شاه میهنه"، "عزیز روزګار"، "پیر صوفیان"، "مهتر میهنه"، "زاهد میهنه"، "شیخ المشائخ" او په داسې نورو مختلفو القاباتو یاد شوے(5) ـ فارسي ادب کښې د صوفیانه شاعرۍ ابتدا د دهٔ په توسط مخې ته راغله (6) ـ د پنجشنبې په ورځ، شعبان ۴۴۰ هجري مطابق د ۱۰۴۹ عیسوي کښې د ادینې په شپه ماځښوتن مال ئې د ۸۳ کاله او ۴ میاشتو په عمر کښې له دې دنیا نه سترګې پټې کړې ـ د ادینې په ورځ چاشت مال میهنه کښې خاورو ته وسپارلے شو (7) ـ

د دهٔ ځینې منظوم او منثور اثار، مقامات او احوال د دهٔ د نمسي، نمسي محمد بن منور بن ابي سعید بن ابي طاهرسعید بن ابي سعید بن ابي الخیر "اسرار التوحید في مقامات الشیخ ابي سعید" کښې ذکر کړي ـ دا کتاب د نېټن ژوکوفسکي په کوشش او اهتمام ۱۸۹۹ء کښې د مطبع الیاس نه پطربورغ کښې چاپ دے ـ دا کتاب فارسي ژبه کښې لیکلے شوے ـ عربي کښې هم ترجمه شوے ـ اسعاد عبدالهادي قندیل ئې مترجم دے ـ

بل کتاب ئې د رباعیاتو دے ـ د مختلفو محققینو په زیار د مختلفوځایونو نه چاپ دے ـ د "تاثرات رباعیات ابوسعید ابوالخیر" په نوم د ملک نذیر احمد، تاج بکډپو لاهور نه د آقاے م ـ الف ـ رازي په زیار چاپ دے ـ فارسي متن سره اردو ترجمه او شرح هم ده ـ شارح او مترجم ئې آقاے م ـ الف ـ رازي دے ـ د اشاعت نېټه ئې معلومه نهٔ ده ـ په دې کښې ټولې ۴۴۲ رباعیانې نقل شوې دي ـ

د "حقیقت کي سیر" په نوم د ابوسعید ابوالخیر د رباعیاتو منظومه ترجمه سره د فارسي متن مولوي مقصود مجددي رامپوري کړې ده ـ دا کتاب منشي سید قربان علي بسمل د شاه جهاني پرېس دهلي نه چاپ کړے ـ ۱۳ ذیقعده ۱۳۴۹ هجري مطابق ۳ اپرېل ۱۹۳۱ء ئې د چاپ کال دے ـ په دې کښې ټولې ۴۱۷ رباعیانې منقول دي ـ

د " سخنان منظوم ابوسعید ابوالخیر "په نوم ئې منظوم کلام چاپ دے . دغه منظوم کلام د فارسي ادب د کلاسیکي دورې د متونو متخصص او لوے محقق سعید نفیسي په تصحیح ، مقدمه، حواشي او تعلیقاتو سره د چاپ خانه حیدري طهران نه تیرماه ۱۳۳۴ خورشیدي کال کښې چاپ دے په دې کښې ټولې ۷۲۰ رباعیانې او نور ۷۷ خوارهٔ وارهٔ شعرونه راټول کړي شوي او منقول دي .زما د معلوماتو مطابق تر اوسه پورې بشپړ کلام هم دغه دے. په دې تحقیق کښې هم دغه د سعید نفیسي مرتب کرده کتاب نه استفاده شوې ده.

1. تاریخ مرصع مخ ۷۱:

مصرع سودے نه دهد یاري هر یار که هست

دا مصرع د ابو سعید ابو الخیر د یوې رباعۍ د وړومبي شعر دوېمه مصرعه ده. په "سخنانِ منظوم ابوسعید ابوالخیر " کښې په ۱۷ مخ راغلې ده. پوره رباعي ئې داسې ده :

تـا در نرسـد وعـده هـر کـار کـه هسـت سـودی ندهـد یـاری هـر یـار کـه هسـت
تــا زخمــت ســرمای زمســتان نکشــد پُرگـل نشـود دامـن هـر خـار کـه هسـت

دغه رباعي " تاثرات رباعیات ابوسعید ابوالخیر "کښې په ۲۱ مخ او " حقیقت کي سیر "کښېکښې په ۱۸مخ راغلې ده.

2. مخ ۵۸۱ :

کس دشمن من نیست منم دشمن خویش ای وای مـن دوسـت مـن و دامـن خـویش

دا شعر د ابو سعید ابو الخیر د یوې رباعۍ دوېم بیت دے . په "سخنانِ منظوم ابوسعید ابوالخیر " کښې په ۵۳ مخ راغلے دے. پوره رباعي ئې داسې ده :

آتش بدودست خویش درخرمن خویش خود برزده ام چه نالم از دشمن خویش ای
کس دشمن من نیست منم دشمن خویش وای مــن دوســت مــن و دامــن خــویش

دغه رباعي " تاثرات رباعیات ابوسعید ابوالخیر "کښې په ۹۲ مخ او " حقیقت کي سیر "کښېکښې په ۲۵مخ راغلې ده.

امير خسرو دهلوي :

امير ناصرالدين ابوالحسن خسرو د امير سيف الدين محمود دهلوي زوے وو ـ د ترکانو د قبيلې لاچين څخه وو ـ سيف الدين محمود د مغول د حملې په وخت د نورو خلقو په شان هندوستان ته کوچ وکړو او د سلطان شمس الدين التمش دربار سره پېوست شو ـ د سيف الدين درې زامن وو چې يو امير خسرو وو ـ امير خسرو **۶۵۱**هجري مطابق د **۱۲۵۳** عيسوي کښې د آګرې په يوه قصبه پټيالي کښې په مومن پور يا مومن اباد کلي کښې پېدا شو ـ د امير خسرو خپل نوم ابوالحسن وو ـ سلطاني، خسرو او خسروی لاچين ئې تخلصونه وو(8) ـ په مختلفو القاباتو ياد شوے لکه سلطان الشعراء، برهان الفضلاء(9) ، سعديِ هندوستان(10) او په موسيقۍ کښې ورته د نايک لقب ورکړے شوے(11) ـ خسرو چې د اوو کالو شو نو پلار ئې وفات ش (12) ـ د پلار د وفات نه پس د امير خسرو روزنه او پالنه د د ۀ د مور پلار عماد الملک کوله څوک چې د سلطان بلبن د جنګ وزير او مشير وو ـ امير خسرو د يولس بادشاهانو زمانه ليدلې وه ـ په خپله د پينځو بادشاهانو په دربار کښې پاتې شوے وو ـ د شيخ المشائخ حضرت نظام الدين اولياء مريد وو ـ شاعري ئې د وړوکوالي نه شروع کړې وه(13) ـ فارسي او ترکي ئې خپلې ژبې وې ـ د عربي ، هندي (14) سنسکرت او بهاشا ژبو ماهر وو ـ د خپلو شعرونو په حقله ئې وئيلي دي چې زما شعرونه **۴** لکهه نه زيات او **۵** لکهه نه کم دي(15) ـ د جمعې په شپه ۱۸ شوال **۷۲۵** هجري وفات شو او دهلي کښې د خپل مرشد په قدمونو کښې خاورو ته وسپارلے شو(16) ـ

ډېر منظوم او منثور اثار ئې پرېښي ـ دلته ئې صرف نومونه راوړو :

"منثور: خزائن المفتوح، افضل الفواد ، رسائل الاعجاز يا اعجازخسروي ـ

منظوم: ديوان : ( تحفة الصغر ، وسط الحيات، غرة الکمال، بقية النقية ، نهاية الکمال) ـ

جواهر خسروي ـ

مثنوياني: ( قران السعدين، مطلع الانوار ، شيرين و خسرو ، مجنون و ليلی، هشت بهشت، تاج الفتوح، نُه سپهر ، دول راني خضرخان، تغلق نامه، آئينه سکندري )"

(17)ـ

قران السعدین مثنوي ئې ۶۸۸ هجري کښې لیکلې وه ـ موضوع ئې د معزالدین کیقباد او غیاث الدین بلبن مناسبات او مراسلات، دے ـ ددې مثنوي نقدِ متن مولوي محمد اسماعیل میرټهي کړے ـ د تمهید تر سرخط لاندې مسټر سید حسن برني پرې لیک کړے ـ د محمد مقتدا خان شرواني په اهتمام د مطبع انسټیټیوټ علي ګړه کالج نه ۱۹۱۸ء کښې چاپ شوې ده ـ دلته هم د دغه چاپ نه استفاده شوې ده ـ

3. تاریخ مرصع مخ ۷۸ :

ملک به میراث نګیرد کسے تا نزند تیغ دو دستی بسے

دا د امیر خسرو د مثنوي قران السعدین شعر دے ـ په ۱۱۸ مخ لیکلے ـ په قران السعدین کښې د "نګیرد " په ځاے "نیابد "لیکلي ـ

جلال الدین رومي :

محمد ئې نوم وو ـ د پلار نوم ئې هم محمد وو ـ بهاء الدین ئې پلار لقب وو او په شیخ بهاء الدین مشهور وو ـ د نسب سلسله ئې ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ته رسي(18) ـ ۶ ربیع الاول ۶۰۴ هجري کښې په بلخ کښې پیدا وو(19) ـ اصل کښې د بلخ وو اما د روم په قونیه کښې استوګن وو ـ خمش ، خاموش او مولوي ئې تخلصونه دي(20) ـ جلال الدین ئې لقب وو ـ په مولوي معنوي، ملاى روم او مولاناى روم مشهور او معروف دے ـ عارف او شاعر وو(21) ـ د یکشنبې په ورځ ۵ جمادي الثاني ۶۷۲ هجري کښې ، د نمر ډوبېدو په وخت وفات شو(22) ـ تر څو چې مولانا د تصوف په حلقه کښې نۀ وو داخل شوے ، ژوند ئې د علمي جاه و جلال شان لرلو ، ولې کله چې د سلوک د لارې لاروے شو نو حالت ئې بېخي بدل شو ـ دا خبره مشتبه ده چې د دۀ صوفیانه ژوند د کله نه شروع کېږي خو دا مسلمه ده چې ډېر مخکښې د سید برهان الدین محقق مرید وو (23)ـ د دۀ د شاعرۍ په حقله تذکره نویسانو څۀ تصریح نۀ ده کړې خو د قرائنو نه صفا برېښي چې د شمس تبریز د ملاقات نه مخکښې ئې د شاعرۍ جذبات طبیعت کښې پټ وو ـ د شمس تبریز د جدائۍ نه پس دغه جذبات ښکاره شول (24)ـ د شاعرۍ د څرګندېدو نه پس ئې دغه اثار نن هم پاتې دي :

فيه ما فيه : دا د هغه خطونو مجموعه ده کوم چې مولانا وخت په وخت معين الدين پروانه ته ليکلي وو (25).

ديوان: د مولانا ديوان د "ديوان کبير " يا "کليات شمس تبريزي" په نوم شهرت لري . دا ديوان د بديع الزمان فروزانفر په انضمام د موسسه انتشارات امير کبير تهران نه په ثوارلسم ځل ۱۳۷۲ کښې چاپ دے . په دې تحقيقي ليک کښې هم دغه چاپ ديوان نه استفاده شوې ده .

مثنوي: دا هغه کتاب دے چې مولانا جلال الدين بلخي ثم رومي ئې تر ننه ژوندے ساتلے دے . نۀ يواځې فارسي ادب کښې بلکې د فارسي ادب سره په څۀ نه څۀ حواله تړون لرونکي خلق د دې نه ناخبره نۀ دي . فارسي ادب کښې د دې مقبوليت په حقله شبلي نعماني ليکي:

ترجمه:

> فارسي ژبه کښې چې څومره کتابونه په نظم او نثر کښې ليکلي شويپه يو کښې هم داسې ژور، نازک او عظيم مسائل او اسرار نۀ شي موندلے کوم چې په مثنوي کښې په بشپړه توګه موندلے شي (26).

دا کتاب په مختلفو دورونو کښې د مختلفو چاپ خانو نه مختلفو محققينو مرتب کړے او چاپ شوے دے . دلته چې د مثنوي معنوي کوم چاپ کتاب نه استفاده شوې ده هغه د رينولد الين نيکلسون په کوشش ، اهتمام او تصحيح د موسسه امير کبير، تهران نه ابانماه ۱۳۳۲ شمسي کال کښې چاپ دے .

4. تاريخ مرصع مخ ۱۷۷ :

تـا قبضـه شمشـير کـه آلايـد خـون ‌‌ تـا دولـت اقبـال کـه بـالا گـردد

دا شعر د جلال الدين محمد رومي دے . په " کليات شمس تبريزي"کښې د رباعياتو په برخه کښې په ۱۳۷۷ مخ داسې راغلې ده چې په اخري مصرعه کښې د " تا دولت "په ځاے " تا آتش"او د " گردد "په ځاے " گبرد"ليکلي . ټوله رباعي داسې ده :

5. تاریخ مرصع مخ **۲۹۳** :

تــا دل خلــق خــدا نایــد بــدرد هیچ قومے را خدا رسوا نه کرد

دا شعر د جلال الدین محمد رومي په مثنوي معنوي په دوېم دفتر کښې په **۳۴۷** مخ داسې لیکلے:

تـا دل مـرد خـدا نآمـد بـدرد هیچ قرنی را خدا رسوا نکرد

حافظ شیرازي :

خپل نوم ئې محمد وو ـ د شېخ کمال الدین زوے وو ـ **۷۲۰** هجري کښې پېدا وو ـ فخر المتکلمین ، شمس الدین او لسان الغیب ئې القابات وو ـ په خواجه حافظ مشهور او معروف وو ـ د ادب په دنیا کښې د حافظ شیرازي په نوم پېژندے شي ـ د ایران عارفانو شاعرانو نه وو ـ شاعري ئې د علوم ظاهري او باطني مکشوفه ده ـ دیوان ئې د دۀ د مرګ نه پس مرتب کړے شوے ـ په اولس کښې دومره مقبول دے چې د دیوان په ذریعه خلق فال معلوموي ـ فارسي غزل ئې کمال ته رسولے ـ د وفات متعلق ئې درې اقوال دي ـ ځینې وائي **۷۹۱** ، ځینې ئې **۷۹۲** او ځینې ئې بیا **۷۹۴** خجري ګڼي ـ خو زیات مشهور **۷۹۱** هجري دے ـ شیراز کښې وفات شوے وو هم هلته شیراز کښې خاورو ته وسپارلے شو(27)ـ

دیوان ئې په مختلفو دورونو کښې د مختلفو چاپ خانو نه مختلفو محققینو مرتب کړے او چاپ شوے دے ـ دلته چې د کومې نسخې نه استفاده شوې ده هغه د محمد قزویني و دکتر قاسم غني په اهتمام د دیوان خواجه شمس الدین محمد حافظ شیرازي د کتابخانه زوار سینا تهران نه چاپ دے ـ چاپ کال پرې نۀ دے لیکلے شوے ـ

6. تاریخ مرصع مخ **۱۵۴** :

تکیـه برجـا ے بزرگـان نتـوان زد بخـلاف مگـر اسـباب بزرگـي همـه آمـاده کنـي

د دې بيت په حقله افضل خان په خپله دا وضاحت کړے دے چې د حافظ شيرازي دے .
دا د حافظ شيرازي په بره مذکوره ديوان کښې په **۳۴۱** مخ راغلے .هلته د " بخلاف "په ځاے " بگزاف "ليکلي .

7. تاريخ مرصع مخ **۱۲۷** :

خوش بود گر ز محک تجربه آید به میان تا سیه روے شود هر که دروغش باشد

دا شعر د حافظ شيرازي دے .په ديوان کښې ئې په ۱۰۸ مخ ليکلے دے .هلته د "گر ز محک "په ځاے " گر محک "ليکلي .

8. تاريخ مرصع مخ **۲۷۱** :

تیغ که آسمانش از فیض خود دهد آب تنها جهان بگیرد بی منت سپاهی

دا بيت د حافظ شيرازي په ديوان کښې په **۳۴۸** مخ هم په دغه الفاظو ليکلے .

9. تاريخ مرصع مخ **۴۲۹** :

گر جان بدهی سنگ سیاه لعل نه گردد باطینت اصلی چه کند بد گهر افتاد

دا شعر د حافظ شيرازي دے .په ديوان کښې ئې په **۷۵** مخ ليکلے دے .هلته د "بدهی "په ځاے "بدهد "ليکلي .

10. تاريخ مرصع مخ **۴۵۰** :

کجاست فکر حکیمی و رای برهمنی

دا مصرعه د حافظ شيرازي په ديوان کښې په **۳۳۸** مخ هم په دغه الفاظو ليکلے .پوره شعر داسې دے :

11. تاريخ مرصع مخ **۴۲۰**:

نــه عمــر خضــر بمانــد نــه ملــک اسـکندر نــزاع برســر دنیــا ی دون مکــن درویــش

دا شعر د حافظ شیرازي په دیوان کښې په ۱۹۷ مخ لیکلے۔

12.تاریخ مرصع مخ ۵۷۴:

انانکــه خــاک رابنظــر کیمیــا کننــد ایــا بــود کــه گوشـهٔ چشـمی بمــا کننــد

دا شعر د حافظ شیرازي په دیوان کښې په ۱۳۲ مخ هم په دغه الفاظو لیکلے۔

عبدالرحمان جامي:

عبدالرحمان ئې نوم دے۔ اصل لقب ئې عمادالدین دے۔د نورالدین په لقب شهرت لري۔ د پلار نوم ئې احمد وو ، په نظام الدین احمد مشهور وو۔د نیکهٔ نوم ئې محمد وو، په شمس الدین محمد دشتی مشهور وو چې اصل کښې د اصفهان د دشت محلې اوسېدونکے وو۔وروستو ئې د هرات قصبې جام کښې استوګنه اختیار کړه۔د نسب سلسله ئې د امام ابو حنیفه شاګرد امام محمد شیباني ته رسي۔عبدالرحمان جامي ۲۳ شعبان المعظم ۸۱۷ هجری کښې خرخرجام کښې پېدا شو۔د قرآن پاک حافظ ، د نحو، صرف، عروض، حدیثو، اصولو عالم، د نقشبندي سلسلې صوفي، شاعر، ادیب ، عرض د علومو او فنونو ماهر وو۔د دشتی د نسبت په وجه ئې اول تخلص عبدالرحمان دشتی وو ۔بیا ئې خپل تخلص د جام د ولایت په وجه جامي کړو ۔۱۸ محرم الحرام ۸۹۸هجري کښې د ۸۱ کالو په عمر کښې وفات شو۔ مزار ئې په هرات کښې دے(28)۔
منثور: اشعة اللمعات،بهارستان، تاریخ هرات، تفسیرالقرآن، چهل حدیث،الدرة الفاخره، رساله در معمی، شرح تائیه ابن فارض، شرح فصوص الحکم ابن عربي، شرح قصیده برده، ،شواهد النبوة، نفحات الانس من حضرات القدس، القوائدالضیائیه، لوامع، لوایح،مناقب خواجه عبدالله انصاري، مناقب ملای رومي، النفحة المکیه، نقدالفصوص(29)۔

منظوم: پـه دوه جلـدونو کښـې ئـې پـه غزلـونـو ، قصـيدو او رباعيـاتو مشـتمل ديـوان د اعلاخان اقصح زاده په مقدمه او تصحيح ، د نشر ميراث مکتوب ، تهران نه چاپ دے ـ د ديـوان پـه دې دواړو جلـدونو کښـې فاتحـة الشباب،واسطة العقـد او خاتمـة الحيـاة کتابونهشـــامل دي سلسلة الذهب،ســـلامان وابســـال، تحفـــة الاحـــرار، ســـبحة الابرار،يوسف زلېخا،ليلى مجنون،خردنامـه اسکندري، دا اووۀ مثنويـاني ئې د هفت اورنګ په نوم چاپ دي ـ د دې نه عـلاوه ئې پـه درس نظـامي کښـې مشـهور کتـاب شرح ملاجامي درساً وئيلے شي ـ

ځينې تذکره نويسانو ئې د کتابونو تعداد **۵۴** ياد کړے ـ(30)

13. تاريخ مرصع مخ **۱۵۱** :

ملـک ابـاد نـه گـردد بـدو شـاه      بشـــکند از دو ســـپهدار ســـپاه
از دو بـــانو چـــی شـــود آشـــفته      خانـــه اميـــد مـــدارش رفتـــه

ددې شعرونو شاعر عبدالرحمان جامي دے ـ دا شعرونه د هفت اورنګ پـه سبحة الابـرار برخه کښې په **۵۸۲**مخ راغلي ـ هلته د وړومبي شعر په وړومبۍ مصرعه کښې د " ملـک اباد "په ځـاے " کشور اباد "او د دوېم شعر په وړومبۍ مصرعه د " چی "پـه ځـاے " چـو "ليکلي ـ

د هفت اورنګ يوه بله نسخه کومه چې د آقـا مرتضی او مـدرس ګيلانـي پـه تصـحيح او مقدمه مسجد سلطاني طهران نـه آبـان **۱۳۳۷**خورشيدي کـال کښـې چـاپ شـوې ده ، دا شعرونه په دې نسخه په **۴۷۳**مخ راغلي ـ

هلالي چغتائي :

مولانا هلالي چغتائي استراباد کښې پيدا وو ـ هرات کښـې لـوے شـوے وو ـ اصـل کښې ترک چغتائي وو ـ تخلص ئې هلالي وو(31) ـ ځينـې تـذکره نويسـان ئـې خپـل نـوم نورالدين يادوي(32) ـ ځينې وائي چې خپل نوم ئې بدرالدين وو ـ ښۀ ښـکلے او ښائسـته ځوان وو ـ د عبدالله ازبک دربار سره وابسته وو ـ د شيعه توب په تور **۹۳۲**هجري کښـې قتـل کړے شو(33) ـ په شعر و شاعرۍ کښې مهارت تامه ورته حاصل وو(34) ـ

د غزلونو ،قصیدو ، رباعیاتو او د مقطعاتو دیوان ئې د استاد سعید نفیسي په تصحیح،مقابله او مقدمه د نشر سنائي تهران نه ۱۳۲۸ کښې د " دیوانِ هلالي جغتایی "په نوم چاپ دے ـ ټول **۳۴۵** مخونه لري ـ په دې کښې **۲۴** مخونه د استاد سعید نفیسي مهمه مقدمه شامله ده۔ ۱ نه ۲۰۲ مخونو پورې غزلونه، ۲۰۳ نه ۲۰۸ مخونو پورې قصیدې، ۲۰۹ نه ۲۱۲ مخونو پورې مقطعات، ۲۱۳ نه ۲۱۶ مخونو پورې رباعیات شامل دي۔ په دغه دیوان کښې د دهٔ دوې مثنویانې شاه و درویش یا قصه شاه و گدا د ۲۱۷ نه ۲۷۶ مخونو پورې او صفات العاشقین د ۲۷۷ نه ۳۳۰ مخونو پورې شاملې دي ـ د ۳۳۱ نه ۳۳۴ مخونه فهرستونه لري ـ دلته هم دغه چاپ نه استفاده شوې ده۔

14. تاریخ مرصع مخ **۴۵۸** :

شـاه بایـد کـه لشـکر انگیـزد　　　از سـواری چـه گـردد برخیـزد

دا شعر د هلالي چغتائي په دیوان کښې په ۲۲۸ مخ د مثنوي شاه و درویش په برخه کښې راغلے دے۔

## References:


1 Damadi,Muhammad,seyed,Doctor,Abu Saeed Namah Zendagi Namah e Abu Saeed Abul Khair, musesa entesharat wa chap Danishgah, Tehran, 2nd edition, tabesta 1374,page10.

2 Humaye, Jalal ud Din, Allama, ustad, Tasswuf da islam negah e ba irfan Shaikh Abu Saeed Abulkhair, chapkhana pecan, Tehran, kherdad 1362, pages 138 – 139.

3 Damadi,Muhammad,seyed,Doctor,Abu Saeed Namah Zendagi Namah e Abu Saeed Abul Khair,page10.

4 Humaye, Jalal ud Din, Allama, ustad, Tasswuf da islam negah e ba irfan Shaikh Abu Saeed Abulkhair,page 149.

5 Damadi,Muhammad,seyed,Doctor,Abu Saeed Namah Zendagi Namah e Abu Saeed Abul Khair,page17.

6 IbId,page37.

7 IbId,pages60-61.

8 Mohammad Wahid Mirza, The Life and works of Amir Khusrau,Baptist Mission press,Calcutta,1935page17.

9 Muhaddes Dehlavi, Abdul Haq, Akhbar ul akhyar fe israr ul abrar, tasheh wa touzih, Alim Ashraf khan, anjaman asar wa mafakher farhangi,Tehran,1383,page192.

10 Saeed Nafisi,ustad,Amir Khusru dehlavi, deevan e Kamel Amir Khusru dehlavi, Murateb : Saeed Nafisi< Ba hemmmat wa kosheh: M Darwesh , Sazman intesharat jawedan, 2nd edition, Asfand1361,page haft.

11 H,Subhani,Tawfiq,Dr, **Negah e ba Tarikh e Adab Farsi Dar Hend**, Entesharat Dabir Khana , Shorai gastareash zuban o adbeyat Farsi, 1st edition, 1377,pages98.

12 IbId,pages96-97.

13 Anwar al Hassan, Dr, Deevane Amir Khusru, Dehlavi, Tarteeb wa Tahzeeb: Dr anwar al Hassan, raja ram kumar book depu, wares nnolkeshwar book depu, lakhnawoo,1967,pages,12-12.

14 H,Subhani,Tawfiq,Dr, **Negah e ba Tarikh e Adab Farsi Dar Hend**, pages98.

15 Anwar al Hassan, Dr, Deevane Amir Khusru, Dehlavi, Tarteeb wa Tahzeeb: Dr anwar al Hassan, ,page,15.

16 Rahman Ali, Tazkera ulama e Hend, Ba ehtemam: Balbu Mauhar Lal, Matba Munshi Nolkeshwar, lakhnawoo, 1914, page 57.

17 H,Subhani,Tawfiq,Dr, **Negah e ba Tarikh e Adab Farsi Dar Hend**, pages99- 100.

18 Shebli Numani, Mulana, Swaneh Mulana room,Kanpur,1906,page1.

19 Jami, Abdur Rahman, Mulana, Nafhat ul uns men Hazarat el qudus,Ba ehtemam: weliem nasolis, Tasheh: Molavi Ghulam esa wa Molavi Ah,ad wa Molavi Kabir ud din ahmad, Matba ,lisi,calcata, 1857, page530.
20 Muhammad Abdul Ghani Khan, Molana, Tazkera tushuaara, Ba ehtemam: Muhammad Muqtada Khan Sherwani, Matba istetute Ali Gharh, 1st October 1916, page130.
21 Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,**Rehana tul Adab**,volume6, haidri printing press, 1374,page30.
22 Shebli Numani, Mulana, Swaneh Mulana room, page25.
23 Shebli Numani, Mulana, Swaneh Mulana room, page 34.
24 Shebli Numani, Mulana, Swaneh Mulana room, page 18.
25 Shebli Numani, Mulana, Swaneh Mulana room, page 46.
26 Shebli Numani, Mulana, Swaneh Mulana room, page 69.
27 Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,**Rehana tul Adab**,volume2, haidri printing press, 1374,pages12 - 15.
28 A: Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,**Rehana tul Adab**,volume1, haidri printing press, 1374,pages385- 391.
    a. B: Lahori, Ghulam Sarwar, mufti, Khazina tul Asfya , volume 3, Translation: Muhammad Zaheer ud Din Bhatti, Mataba Nabaweya, Lahore,1994, page124.

29 Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,**Rehana tul Adab**,volume1, haidri printing press, 1374,pages385- 391.
30 IbId.
31 Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,**Rehana tul Adab**,volume6, haidri printing press, 1374,page367.
32 Muhammad Abdul Ghani Khan, Molana, Tazkera tushuaara, Ba ehtemam: Muhammad Muqtada Khan Sherwani, page114.
33 Wala Daghestani, Ali Quli bin Muhammad Ali, Tazkera Reyaz ushuaara, volume4, Muddema, Tashih wa tahqeeq: Mushen Naji Nasar Abadi, Asateer, Tehran, 1384, page2492.
34 Ali sher nawaye, Meer Nezam ud Din, Majalis un nafais, Basaye wa ehtemam: Ali Asghar Hekmat, Bank Melli, Iran, Teharn, 1323 hejri Shamsi, page68.